ژباړن: ابراهیم نعیمی نیټه ۲۰۱۰-۱۰-۳۰

# دبنسټیزوحجراتوورکول

Jyllands-posten onsdag d.١٦,١٠,٢٠١٠
دپورته ډنمارکی ورځپاڼی څخه وژباړل شو

- بنسټیزحجرات دناروغیودمعالجی لپاره کیدلای شی دعقل دغاښونوڅخه واخیستل شی کړم چی مخکی دهډوکو دمغزو څخه اخیستل کیده
- یوډنمارکی څیرونکی په ډیرشوق دغه پرمختګ تعقیبوی. ځکه داچاره ډیره اسانه ده، ډیراسانه عملیات ته اړتیالری.

کیدلای شی په راتلونکی کی دخطرناکه ناروغتیاودعلاج لپاره دهډوکودمغزو په ځای دعقل دغاښونه کار واخیستل شی چی ددغوناروغتیاو لپاره دبنسټیزو حجراتو په ډول ګټه ورنه اوچته شی. څیرونکی دنوو څیرنو پربنسټ دهډوکوڅخه دمغزواخیستل چی عملیات ته اړتیالری په بدل کی دعقل دغاښو څخه کاراخیستل دیادی شوی چاری لپاره یولوی پرمختګ بولی.

دبنسټیزو حجراتو په واسطه دناروغیو معالجه کول ډیره ښه راتلونکی لری، ځکه همدا اوس دعادی او خطر ناکو ناروغیو دعلاج لپاره تر ازموینولاندی دی.

بنسټیزی حجری کولای شی چی زیان من او یاکمبوده برخه دانسان په وجودکی جبران کړی. د وروستنیو څیړنو پایلی چی دجاپانی څیرونکو لخوا دبیالوجیکی کیمیا په جریده کی خپری شوی دی، په څرګندډول ښیی چی دعقل دغاښونو څخه ګټه اخیستل دهډوکو دمغزو په بدل کی ډیری ګټی لری.

## ۲۳۰ ډوله حجری

دهډوکوماغزه کیدلای شی ددی موخی لپاره وکارول شی ولی دیادشوی جاپانی څیرنیز ګروپ مشرپه دی اندی چی دعقل دغاښونو دبنسټیزو حجراتو څخه ګټه اخیستل څو ځله زیاته ګټوره اغیزه لری. ددی خبری معنی داده چی څوک ډیرو لږو حجراتوته دمعالجی لپاره اړتیالری. دمعالجی لپاره دغاښونه یوډول بنسټیزه حجره اخیستل کیږی ولی په پرنسیپ کی په لایتناهی کچه ډیرځله ویشل کیدلای شی. او برسیره پردی دغه حجرات کولای شی چی دوجود(۲۳۰) ډوله حجراتوته بدلون ومومی.

## ویجاړی شوی حجری جبران کوی

دعقل دیوه غاښ حجراتوڅخه کیدای شی داسی حجرات جوړ شی چی دفلج شوی ناروغانو دملا دبرخی حجرات جبران کړی، دمغزی ناروغانو حجرات چی دمینځه تللی وی او هم دهغوناروغانوحجرات جبرانولای شی چی دسترګو دوروستی برخی حجرات یی دکاره لویدلی وی. تقریباً په نړی کی(۳۰) میلیونه انسانان ړانده دی ځکه دوی دغه حجرات نلری.

دهډوکو دمغزو حجرات په ځانګړی ډول هغه حجرات جوړولای شی چی وجودته یی ورکولای شی یا په بل عبارت دغه ځانګړی شوی حجرات دی.

کله چی حجری دیوغاښ نه واخیستل شی، یوه لویه ګټه یی داده چی دغاښو جوړولو په کلینیک کی دبکټریاونه پاک اخیستل کیدای شی، نو په دغه خاطر دا اسانه ده چی د عقل غاښ په یخ سوی ډول وساتل شی. ناروغ کولای شی چی داړتیاپه صورت کی په وروسته کی که دحجرو پواسطه معالجی ته اړتیا پیداکړی، ګټه تری نه واخلی.

## دګټی اخیستو لپاره به څوراتلونکلونوکی چمتوشی

دکوپنهاګن دمرکزی روغتون مشرډاکټردحجراتو په واسطه دناروغانو دعلاج په موخی په دغه دنده بوخت دی. ستونزه داده چی دهډوکوماغزه ددغی موخی لپاره په ډنمارک کی دهډوکونه لاسته راوړل کیږی چی دامقدارډیرلږدی، نوموړ هغه ساتو ځکه یو مقداردهډوکوماغزه باید دمعالجی لپاره وکارول شی.

ولی یادی شوی نوی بنسټیزی حجرات په دی ګټوردی چی یوی لوری زیات موادوته اړتیا نشته او دبل لوری دعقل غاښونه ددغوحجراتو اخیسلو لپاره کافی شتون لری. برسیره پردی پیشبینی کیږی چی دغه حجرات څوکاله وروسته هم ګټه تری نه اخیستل کیدای شی.

کله چی دغه حجرات ترمعالجی لاندی ونیول شی، ډیره په زړه پوری پایله لاسته راځی: حجرات په او مو حجراتو اوړی چی دبیلګی په توګه کوچنی دوینورګونه ورنه جوړیږی. ولی کله چی د وجودحالت بدلون وومومی، کیدای شی داحجرات بیا اومی شی، خبره داده چی تراوسه څوک بشپړکنترول نشی وربـاندی درلودلای.

## غاښونه دساتنی په موخی یخی کیدای شی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ممکن دا ارزش ولری چی دعقل غابښونه د اطمینان په خاطرتریوی مودی وساتل شی. او داسی نه چی په معمول ډول هغه لیری شی.
په اوسنی وخت کی ځیرنی دهډوکو پرماغزو باندی کیږی او دمعالجی لپاره هم ددغه ماغزو څخه ګټه اخیستل کیږی.
دغه ماغزه دملا په برخه کی دهډوکوڅخه دیوی پیچکاری پواسطه په یوه ټاکلی اندازه اخیستل کیږی.
په نوی میتودکی کیدای شی حجرات دیوه یخی شوی غاښ څخه واخیستل شی، کوم چی ډیرکلونه پخواکښل شوی دی.
همدا اوس دغه غابښونه په ډاډمنه توګه دغابښوپه کتنځی کی کښل کیږی، یوازی دا اړتیاشته چی هغه لیری شوی غابښونه کنګل شی.

پای په درناوی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ